احسان‌الله اربنزی

۲۰۲۶/۰۳/۲۱

# افغانستان

## طبيعي، بشري، سياسی، اقتصادي او تاريخي جغرافيه

## يوويشتمه‌برخه

### ۸- پنجشير

پنجشير د افغانستان تر ټولو نوی او کمکی ولايت دی. له غزنوي پېره مخکې دې درې ته کچکن يا کچکنه ويل کېدل. د اسلامي دورې پوهانو بنجهېر، بنجهار او پنجار ليکلی؛ خو د حدود العالم من المشرق و المغرب ورکنومی مورخ پنجهېر ثبت کړی، چې د ابن بطوطه په وينا په سانسکريت کې ( غر) ته ويل کېږي. پنجشېر پخوا د کابل ولايت يوه ولسوالي وه؛ خو د افغانستان په هغه اداري جوړښت کې چې اعلحضرت محمد ظاهر شاه په وخت کې منظور شو، پنجشير په پروان ولايت پورې وتړل شو او د ولمسمشر کرزي په وخت کې جلا درېيمه درجه ولايت شو( ۲۰۰۳).
پنجشير $^2$د **کاپيسا او پروان ولاياتو (کوه صافي، بګرام، چاريکار، جبل السراج او سالنګ) په شمال کې پيل او مخ په شمال ختيځ اوږد پروت دی، .** ۳۷۷۱km پراخوالی، شپږ ولسوالۍ او ۱۸۲۰۰۰ نفوس لری( ۲۰۲۳). پنجشېر د سمندر له سطحې څخه په منځنی توګه ۲۲۲۰m لوړ دی.؛ خو ځينې برخې يې ان ۶۰۰۰m ته هم رسي. د **پنجشير شمال ته تخار او بغلان، ختيځ او شمال ختيځ ته نورستان او بدخشان، جنوب لوېديځ ته کاپيسا، جنوب ختيځ ته لغمان او لوېديځ ته پروان ولايتونه موقعيت لری.**

**پنجشير د پامير په لوړو برخو او د هندوکش په لمنو کې دېرې اوبه لري، چې د نغلو په لاره ننګرهار او بيا خيبر پښتونخوا ته دورمي. د پنجشير ژمي ساړه – واورين او دوبي تاوده دي. د دې ولايت زمرد نړيوال نوم لري،**

| شمېر | د ولايت نوم | اداري درجه | مساحت پهkm² | ختيځ طو ل البلد | شمالي عرض البلد | د سمندر له سطحې څخه لوړوالی په m | نفوس |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | پنجشير | درېيمه | ۳۷۷۱,۶ | 69-50 | 35-25 | | ۱۸۵۱۹۳ |
| 1 | بازارک | مرکز | | 69-30 | 35-30 | | 23167 |
| 2 | رخه | و- 2 | | 69-28 | 35-15 | | ۲۸۲۳۵ |


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3 | دره | و- ۲ | | 69-45 | 35-12 | | ۱٤۰۸٦ |
| 4 | خنج | و-1 | | 69-45 | 35-25 | | |
| 5 | اوناېه | و- ۲ | | 69-25 | 35-16 | | ۲۲۱۵۳ |
| 6 | شتل | و – ۳ | | 69-16 | 35-15 | | ۱۳۳٦٦ |
| 7 | پریان | و-3 | | 69-65 | 35-40 | | ۱۸۲۳۳ |

حصه اول: ۳۹۲۳۱
آبشار: ۱۳٦۱۱


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ